# آیا عقوبت های اجتماعی بخاطر جلوگیری از جرائم خفیف در افغانستان عملی است؟


## د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز - کابل



**تحلیل** CSRS | **شماره:** ۳۵۷

27 میزان ۱۳۹۹ هـ ش / 18 Oct 2020



**ویبسایت:** www.csrskabul.com - www.csrskabul.af

لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت انکشاف مطالب این نشریه به این آدرس ها با ما شریک سازید:

**ایمیل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com


---

**لومړی تحلیل**

**دویم تحلیل**

# آیا عقوبت های اجتماعی بخاطر جلوگیری از جرائم خفیف در افغانستان عملی است؟



در میان کشور های عربی؛ اردن کشوری است که از نظام عدلی و قضایی نسبتاً خوبی برخورداراست. نظام قضایی این کشور از سال 2017م طرح عقوبت های اجتماعی به عوض رفتن به زندان را در جرائم خفیف به تصویب رسانیده و در اواخر 2018م به مرحلهء تطبیق گذاشت. با استفاده ازین قانون، طی دو سال گذشته 333 مجرم جرائم خفیف (جنحه) به عوض رفتن به زندان؛ در اماکن عامه به خدمت بلاعوض محکوم گردیده اند که 307 تن آن از ذکور و 26 تن آنان إناث بوده اند. بسام تلهونی؛ وزیر عدلیهء اردن اخیرا ضمن مصاحبه با شبکهء تلویزیونی الجزیره[1] اظهار داشت که آنها این تجربه را در مجموع کامیاب ارزیابی می نمایند، زیرا از یک طرف فرد محکوم علیه از فامیل خویش جدا نگردیده در کنار اولاد خویش جزای تعین شده را تحمل می نماید و از جانب دیگر، فامیل وی نیز از مصدر رزق خویش محروم نگردیده باردوش جامعه یا دولت نمی باشد. این درحالی است که دولت از خدمات رایگان آنها در ارگان های عامه به خوبی مستفید گردیده است. اکنون فعالان مدنی و متخصصین روان درمانی اردن طرفدار توسعهء عقوبت های اجتماعی به خصوص برای سالمندان، زنان، نوجوانان و مبتلایان به امراض مزمن می باشند زیرا که هم فرد و هم حکومت ازین ناحیه نفع می برند.

Center for Strategic and Regional Stud

[1] https://www.aljazeera.net/news/humanrights/2020/10/3/لمنع-اختلاطهم-بالمساجين-الخطرين

همه می دانند که مجرم باید مجازات شود، و مجازات باید به شکل باشد که هوس ارتکاب جرم را از سر فرد و دیگران بیندازد؛ افرادی اند که جرایم سنگین را مانند قتل، دزدی و.... همچون این ها اعمال دیگر مرتکب می شوند بدون شک برای به سزا رسیدن این ها دولت ها قاعده و قانون دارند، ولی در میان افراد وجود دارند که سابقه جرمی ندارند با جرایم خفیف اگر آنها به زندان ها روان گردند، این عمل سبب می گردد که از یک طرف زندان ها پر شوند و از طرف دیگر نگاه داشتن مجرمین عادی با مجرمین خطرناک سبب می گردد که زندان ها برای آن ها محل آموزش انواع جرایم دیگر گردد.

اردن یگانه کشوری نیست که در آن عقوبت های اجتماعی به عوض رفتن به زندان برای تعدادی از جرم ها تجویز می گردد. تعداد دیگری از کشور ها نیز تجاربی درین زمینه دارند.

## تجارب جا گزینی عقوبت های اجتماعی به عوض حبس:

کشور ها برای جرایم از لحاظ خفت و شدت و مجازات محکومیت متفاوت را تعین نموده اند، قسمی که در قانون جزایی افغانستان نظر به ماده ۲۸ برای اعمال قبیح جرم جزای نقدی تا سی هزار افغانی تعین شده است، و برای عمل جرمی کوچک یا جنحه جرمی طبق ماده ۲۹ قانون جزایی افغانستان بدیل حبس، جزایی نقدی یا حبس قصیر یا حبس متوسط تعین شده است.[2]

قانون گذاران ایران در سال ۱۳۹۲هـ با مدنظر قرار دادن این که حبس برای افراد که جرایم خفیف را مرتکب می شوند ضرر بیشتر از سود دارد مجازات جایگزین را به تصویب رسانید. این تخفیف قانونی برای تمام افراد نبوده، اگر مجرمی در مدت ۵ سال از وقوع جرم، بیش از یک سابقهٔ کیفری با تحمل ۶ ماه حبس داشته باشد یا تنها یک فقره سابقه کیفری با مجازات بیش از ۶ ماه حبس داشته باشد در این صورت نمی تواند از مقررات مربوط به مجازات های جایگزینی بهرمند شود.

بر اساس قانون نامه جزایی ایران ماده ۲ آن خدمات عمومی رایگان در شش دسته تقسیم بندی شده:

1 - امور آموزشی شامل سواد آموزی، ورزشی، حرفه ای...

[2] دافغانستان اسلامی جمهوریت رسمی جریده، کود جزا، باب دوم فصل اول ماده ۲۸ و ۲۹

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

2 - امور درمانی شامل پرستاری، نگهداری سالمندان، کودکان و معلولان، بهداشت محیط...

3 - امور فنی شامل خدمت در کارگاه ها، کارخانه ها...

4 - امور خدماتی شامل نظافت اماکن عمومی، نگهداری بوستان ها و باغ ها، تعمیر و تنظیف وسایل نقلیه عمومی و دولتی، پارک ها...

5 - امور کارگری در بخش های ساختمانی، معادن، راهسازی

6 - امور کشاورزی شامل باغبانی، مرغداری، دامداری..

این ها مجازات های جایگزینی برای افراد میباشند، ولی مدت آن نظر به جرم از طرف محاکم تعین میگردد.[3]

روش جالب دیگر که کشور برازیل برای کاهش محکومیت افراد در زندان اتخاذ نموده اند، و سبب شده است که زندگی و سلامت زندانیان را دیگرگون کند اینست که زندانیان در این کشور میتوانند با کتاب خوانی، یادگیری زبان، چارج کردن بطری ها، و یا با رکاب زدن و تولید برق از دوران محکومیت خود کاسته و به آزادی نزدیکتر شوند.[4] مطالعه کتاب این قانون و شرایط را دارد که زندانیان برای خواندن کتاب چهار هفته فرصت دارند و پس از آن یک خلاصه دقیق آن را به زندان بان بسپارد. در این صورت زندانی میتواند ۴۸ روز از دوره زندانی خود را در یک سال کم کند. این طرح زمانی عملی شد که تعداد زندانیان در سال ۱۹۹۵م ۱۴۸ هزار نفر بود ولی در سال ۲۰۱۰ این رقم به شکل سرسام آوری به ۴۹۴ هزار و ۲۳۷ تن رسید.[5]

آلمان نظر به ماده ۴۷ قانون جدید، جزای نقدی را جانشین مجازاتهای زندان کمتر از شش ماه کرده است. البته این قانون در صورتی اجرا می شود که به علت وجود شرایط خاص در عمل مجرمانه و یاشخصیت مجرم توجیه پذیر باشد. در آلمان کسانیکه از پرداخت جزایی نقدی امتناع می کنند، از سوی دادگاه به انجام کار عام المنفعه (تا ۲۴۰ ساعت کار مجانی) برای جامعه محکوم می شوند.

[3] https://www.yasa.co/blog/who-can-make-use-of-alternative-sentences-instead-of-prison/

[4] http://www.seratnews.com/fa/news/128895/

[5] https://www.google.com/amp/s/www.mehrnews.com/amp/1636481/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

در کشور هالند تیز حبس جایگزینی برای مجرمانی میباشد که  مجازات شان حداکثر الی شش ماه حبس باشد. حبس جایگزینی در هالند به جای جریمه و تعهد خاص استفاده می شود و شکلی از کار عام المنفعه اجتماعی بدون پرداخت میباشد.۶

کشور های دیگر جهان نیز وجود دارند که از طریق های مختلف مجازات های جایگزینی استفاده می نمایند، مانند؛ جزای نقدی که محکوم از یک هشتم حصه تا یک چهارم حصه درآمد خود را روزانه به عنوان مجازات میپردازد. تعدادی از دادگاه ها در جهان، با در نظرداشت نوع جرم، شخص محکوم علیه را از بعضی حقوق اجتماعی اش محروم میگرداند که شامل عدم حضور در انتخابات، عدم اشتغال به شغل دولتی به یک مدت معین، عدم سفر به بیرون از شهر.

کشور ها نظر به اوضاع و احوال شان از روش های متفاوت جایگزینی حبس استفاده می نمایند، اما در صورتی که به جا و مناسب  استفاده شود به طور حتمی می تواند در کاهش جرم موثر واقع گردد، در غیر آن ناکاراً  خواهد بود.  این عمل برای کشور ها بدون شک تاثیر بسزای دارد، چون سبب میگردد در مصارف بصورت حداقل هم صرفه جویی صورت گیرد، افراد که غیر عمدی عملی بی قانونی را مرتکب شده اند از مجرمین با اعمال سنگین دور نگهداشته می شوند و در کار های عام المنفعه پیشرفت صورت میگیرد. ولی در کشور های که آغشته به فساد اداری ( مانند افغانستان)، بی عدالتی، بی نظمی و هرج و مرج سیاسی باشد؛ شاید این شیوه چندان کارا نباشد.

## آیا تطبیق جزاهای اجتماعی بدیل در افغانستان ممکن است؟

جرم در لغت به معنای گناه، خطا، بزه و... آمده است.۷ اما در اصطلاح حقوق دانان به هر فعل یا ترک فعلی گفته می شود که توسط قانون برای آن جزا یا تدابیر امنیتی پیش بینی شده باشد.

ماده ۲۷ قانون جزایی افغانستان جرم را چنین تعریف میکند: «جرم، ارتکاب یا امتناع از عملی است که مطابق احکام این قانون جرم شناخته شده، عناصر آن مشخص و برای آن مجازات یا تدابیر تاٌمینی تعیین گردیده

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

[6] http://www.goolge.com/amp/s/www.khabaronlione.ir/amp/374418/

[7] **حقوق جزای فغانستان ، رهنمود ماکس پلانک برای حقوق جزای افغانستان (دکتر صدر توحید خانه)**

باشد.»[8]

و مجرم نیز در ماده ۵۷ مطابق قانون جزایی افغانستان قرار ذیل تعریف شده است:

«مجرم شخصی است که عمل مادی جرم را به تنهایی یا به اشتراک دیگران مرتکب شده اند.»[9]

طبق قانون مجازات اسلامی، هر نوع رفتاری اعم از فعل یا ترک فعل که در قانون برای آن مجازات تعیین شده است جرم به حساب می آید. از دیدگاه عده ای از حقوق دانان نقص قانون هر کشوری در اثر عمل خارجی در صورتی که انجام وظیفه یا اعمال حقی آن را تجویز نکند و مستوجب مجازات هم باشد، جرم نامیده می شود.[10]

از دید فیلسوفان جرم عمل ضد اجتماعی است که مردم یک جامعه مخالف با انجام آن هستند و بخاطر آن که کسی آنرا انجام ندهد، به حکومت این حق را داده اند تا آنرا توسط قانون جرم انگاری کرده و برای آن مجازات تعیین نماید، مجازات هم واکنش جامعه علیه جرم است. به هر صورت جرم به عنوان یک پدیده اجتماعی همانند دیگر پدیده های اجتماعی، دارای ابعاد مختلف است و عوامل متعددی می تواند در پیدایش آن نقش داشته باشد. دوام جنگ و بی امنیتی، فقر و مشکلات اقتصادی در کنار جهالت و پائین بودن سطح تعلیمی، عوامل عمده ای اند که با عث ارتکاب جنایت ها در کشور ما می شوند.

مردم افغانستان با هزاران مشکلات اقتصادی، اجتماعی، امنیتی وسیاسی روبرو میباشد. این عوامل هر کدام زمینه ساز انحراف نسل جوان و تشویق شان به ارتکاب جرائم می باشد. در حالیکه زندان های افغانستان جای مناسبی برای اصلاح افراد و تجدید تربیت انسان های مجرم نیستند؛ بهتر می بود اگر حبس تما جرائم خفیف، به عقوبت های اجتماعی بدیل تعویض گردد. اما با در نظر داشت وضع موجود و ظرفیت های مراجع تطبیق قانون در کشور، مشکل به نظر میرسد که اولاً از چنین جزاهایی مورد سوء استفاده زورمندان وقانون شکنان در جامعه قرار نگیرد و ثانیاً اینکه در تطبیق عملی و مدیریت اینگونه جزاها، خواسته یا نخواسته کوتاهی صورت نگیرد.

کود جزای فعلی افغانستان مواردی را که در قانون جزایی قبلی، حکم حبس داشت؛ به غرامت های نقدی تعویض نموده که تا حد زیادی معقول به نظر میرسد. ولی تا وقتی جنگ پایان نیافته و صلح و امنیت به کشور بر نگردد، مشکل است روی ادخال عقوبت های اجتماعی متنوع به عنوان بخش مهمی در کود جزای افغانستان، تصمیم گرفت.

تأمین صلح، امنیت و عدالت اجتماعی موارد مهمی اند که در وجود آنها حکومت افغانستان میتوانند مجازات های جایگزین را به کود جزایی کشور اضافه نماید، و مردم نیز بتوانند روی عدالت این مجازات اعتماد نمایند.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

---

[8] دافغانستان اسلامی جمهوریت رسمی جریده، کود جزا، باب دوم فصل اول ماده ۲۷

[9] دافغانستان اسلامی جمهوریت رسمی جریده، کود جزا، باب دوم فصل اول ماده ۵۷

[10] قاسمی، ابراهیم روشن: عوامل جرم اجتماعی، سال: ۱۳۹۰، شماره ۴۰

# جنايي پېښې او د زياتېدو لاملونه يې



له تېرې يوې مياشتې راهيسې پلازمېنې کابل په گډون د هېواد په يو شمېر ولايتونو کې د جنايي پېښو گراف اوج ته رسېدلی، او خلک يې له سختې وېرې سره مخ کړي دي. بلخوا د جنايي پېښو زياتېدو سره د کورنيو چارو وزارت چارسمبالي ښاغلي مسعود اندرابي چې د ميزان مياشتې په 19 نېټه يې د کابل پينځمې حوضې څخه ليدنه ترسره کوله وويل: له دې وروسته دې مجرمين د قانون په رڼا کې له پېښو وغورځول شي او د هغوی د ويشتلو امر يې ورکړ. دا چې په کابل او ولايتونو کې ولې جنايي پېښې مخ پر زياتېدو دي، د CSRS په دې تحليل کې مو په همدې تړاو ليکل کړي دي.

## افغانستان او جنايي پېښې

له 2001 کال را وروسته چې بهرنيو ځواکونو پر افغانستان تېری ترسره کړ، په لومړنيو کلونو کې يو شمېر افغانانو له داخلي او بهرنيو ادارو سره دندې ترسره کولې. ددې سره اقتصادي فعاليتونه زيات شول او د کار او مزدورۍ فرصتونه پرو افغانانو ته په لاس ورغی. خو کله چې يادو ادارو خپل فعاليتونه په افغانستان کې وځنډول او يا يې بند کړل، او ورسره اقتصادي او عمراني فعاليتونه هم کم شول. زيات شمېر افغانان له بېکارۍ سره مخ شول او سختو اقتصادي ستونزو وځپل. يو شمېر داسې کسان

Center for Strategic and Regional Studies

هم وو چې د مصرف او سپما انډول ساتلو په برخه کې یې ستونزې درلودې او کله چې بېرونیو ادارو په افغانستان کې خپل کاري فعالیتونه پرېښودل چې د هغوی د بې کارۍ لامل شول نو یادو کسانو د خپل مصرف لپاره کافي آمدن نه درلود، نو هغوی اړ شول ترڅو په هغو غیر قانوني لارو تګ پیل کړي چې د هغوی د مصرف پوره کېدو لپاره ګټور ثابتېدلی شول. بل دا چې د بهرنیو ځواکونو راتګ سره یو شمېر افغانانو چې په لوړو معاشونو یې کارونه ترسره کول، په نشه یې توکو لکه، شراب، ټابلیټ کا، پوډر او چرسو چې له دې وړاندې د هېواد په کچه ډېر معمول نه وو، اخته شول. پر همدې بنسټ د احصائیوي شمېرو له مخې د هېواد په کچه له درې میلیونو زیات وګړي په نشه یي توکو اخته پېژندل شوي دي.

دا چې د افغانستان اقتصاد تر ډېره په بېرونیو مرستو ولاړ دی، او بېرونۍ مرستې شرایطو ته په کتو د پخوا په پرتله ډېرې کمې شوي چې دې کار سره د بې کارۍ کچه هم لوړه شوې، کومه چې د جنایي پېښو زیاتوالي سره مستقیمه اړیکه ځکه لري چې خلک اړ دي ترڅو د خپل ورځني ژوند ترسره کولو لپاره جنایي پېښې لکه غلا، تښتونې او وژنې ترسره کړي.

له 2001 کال راوروسته په افغانستان کې د جنایي پېښو زیاتوالی چې په هغو کې د بهرنیو اتباعو په ګډون د هېواد په کچه د پانګوالو تښتونې یادولی شو د 2005 کال نه تر 2008 کال پورې په بې سارې توګه زیاتې شوې. له هغې وروسته 2014 او 2018 بیا هغه کلونو په توګه یادولی شو چې د جرمي کارونو لکه غلاوو، تښتونو، او وژنو فعالیتونه پکې اوج ته ورسېدل او له هغې وروسته دا لړۍ د دوام په شکل را روانه ده.

که په افغانستان کې د جرمي پېښو لاملونو ته وکتل شي په هغو کې، نشه یي توکي، اقتصادي ستونزې، سیاسي او امنیتي ستونزې، په ښه توګه د قانون نه پلي کېدل او په اداراتو کې د فساد پراخه شتون د هغو لاملونو په توګه یادولی شو چې جنایي پېښې ورسره زیاتې شوي دي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

په دې وروستيو کې ليدل کېږي چې د کابل په کچه چې د ولايتونو په پرتله يې امنيت ښه ګڼل کېږي د عامو خلکو څخه د قيمتي توکو، موبايل، پيسو په زور اخيستنې زياتې شوي دي، او خلک له سختې وېرې سره مخ شول مګر امنيتي ادارو تر دې مهال د کابل په امنيت کې کوم د پام وړ تغير رانوست، تردې چې کابل ميشتو وګړو په ټولنيزو رسنيو د (کابل امن نه دی!) پراخه کمپين ترسره کړ، او حکومتي چارواکي بيا اړ شول چې د ښارګنډونو په کچه خلکو ته ډاډ ورکړي چې د هغوی امنيت خوندي کېدو لپاره هڅې کوي، خو په عمل کې څه نه شته.

د کابل امنيه قوماندانۍ مسولينو پر وينا په تېرو 20 ورځو کې کابل کې 146 جرمي پېښې منځ ته راغلي چې په همدې تړاو يې 133 تورن کسان نيولي هم دي چې په غلا، وژنو، تښتونو، مخدره توکو خرڅولو، غصب او اخلاقي جرمونو ترسره کېدو کې يې لاس درلود.

د کورنيو چارو وزير ښاغلي مسعود اندرابي چې د جرمي پېښو زياتېدو وروسته يې د کابل يو شمېر امنيتي حوزو څخه ليدنې پيل کړي، امنيتي ځواکونو ته د دې سپارښتنه هم کړې چې له دې وروسته دې مجرمين د حوزو پر ځای مستقيماً کورنيو چارو وزارت قرار ګاه او کابل امنيې قوماندنۍ ته يوسي، ترڅو د څېړنو په پايله کې د هغو کليدي افرادو او ډلو په پيدا کولو کې ترې ګټه واخيستل شي.

## جرمي پېښې څنګه کمېدلی شي؟

د نړيوال وجهي صندوق وروستي راپور له مخې افغانستان په روان 2020 کال کې د کوويډ 19 له امله سخت وځپل شو او منفي 5 سلنه اقتصادي وده درلوده، بلخوا افغانستان سره د 2014 کال بروکسل کنفرانس له مخې په ملکي او نظامي برخه کې د نړيوالې ټولنې مرستې د روان کال تر پايه تنظيم شوي، او تمه ده چې ياد راتلونکی کنفرانس نومبر مياشت کې افغانستان سره د نورو مرستو ترسره کېدو په پار ترسره شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

افغان حکومت چې له یوې خوا د طالبانو له لوري د پراخو امنیتي ګواښونو سره مخ دی، او بلخوا روان بد اقتصادي وضعیت ښه کېدو لپاره د نړیوالو مرستو جلبولو باندې بوخت دی، په همدې لړ کې د هېواد په کچه جرمي پېښو زیاتوالي لا پسې اندېښمن کړی او داسې هم انګېرل کېږي چې د روانو جرمي پېښو تر شا دې په لویه کچه لاسونه شتون ولري، ځکه په یو ځل د جرمي پېښو زیاتوالي د حکومت او ولس ترمنځ بې باوري اوج ته رسولې او عام وګړي امنیتي ادارې په دې تورنوي چې ګواکې له غلو او جرمي پېښو ترسره کوونکو سره لاس لري. همدا لامل وو چې تېره ورځ لومړي معاون ښاغلي امر الله صالح ته د کابل امنیت خوندیتابه لپاره ځانګړې مسؤلیت ورکړل شو، ترڅو د امنیت په ټینګولو کې ونډه ولري.

که څه هم افغان حکومت د روان کال سرطان میاشتې په 24 نېټه د کابل امنیت ښه کېدو لپاره د خلکو د زیاتو غوښتنو وروسته د میثاق امنیتي په نوم چې د حکومت او خلکو د همکارۍ په ترڅ کې رامنځ ته کېدونکې برنامه وه، په لاره اچولو اعلان وکړ، خو لیدل کېږي چې یاده برنامه یوازې د څرګندونو ترحده پاتې شوې او اغېزمنې پایلې یې و نه درلودې. په دې وروستیو کې د ولسي جرګې رئیس یاده برنامه یوه ناکامه برنامه یاده کړه او د نورو پراخو مثبتو بدلونونو غوښتنه یې وکړه.

که افغان حکومت په رېښتوني توګه غواړي چې د هېواد په کچه جرمي پېښو ګراف راښکته کړي، نو عامو خلکو اقتصادي وضعیت ښه کېدو لپاره دې برنامې په لاره واچوي، ځکه بې کاري او د جرمي پېښو زیاتوالی مخامخ تړاو لري. افغان حکومت کولی شي بې کاري د کلیدي موضوع په توګه بروکسل کنفرانس ته وړاندې کړي، ترڅو د نړیوالې ټولنې مرستې په همدې تړاو ترلاسه کړي.

افغان حکومت چې په داخلي کچه د جرمي پېښو کموالي لپاره بل کوم ګام پورته کولی شي هغه د نشه يي توکو پلورونکو مخنیوی دی، که چېرته د دې ناوړه د خرڅلاو مخه و نه نیول شي ښایي په همدې نشه يي توکو اخته کسانو له امله هم کابل ښاریان په ښار کې د تګ راتګ له سختو خنډونو سره مخ

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

شي، ځکه په نشه يي توکو اخته کسان شمېر ورځ په ورځ مخ پر زياتېدو دی او حکومت يې پر وړاندې هيڅ ډول اغېزمن ګامونه نه پورته کوي. زياتره په نشه يي توکو اخته کسان د نشه يي توکو ترلاسه کولو لپاره اړ کېږي ترڅو له خلکو څخه په زور قيمتي توکي واخلي تر دې چې يو شمېر کسان په همدې لړ کې ټپيان او حتی وژل کېږي.

هغه کسان چې جرمي پېښې ترسره کوي او له خلکو موبايل او نور قيمتي توکي په زور اخلي هغوی د د منظمو ګروپونو په توګه فعاليت کوي، حکومت اړ دی ترڅو د موبايل او سيمکارت ثبتولو لړۍ زر تر زره پيل کړي، ځکه هغه کسان چې هره ورځ له خلکو په زوره موبايل او نور قيمتي توکي رانيسي په ډېره آسانۍ کولی شي د کابل په بازارونو کې غلا شوي توکي وپلوري.

امنيتي ادارې تر هغو نه شي کولی په ښه توګه امنيت تامين کړي ترڅو چې د خلکو ملاتړ له ځان سره و نه لري، د امنيتي ادارو او خلکو ترمنځ بې باوري او نه ملاتړ هغو کسان ته يو لوی فرصت په لاس ورکړی چې جرمي پېښې ترسره کوي. عام وګړي انديښنه ښيي چې د جرمي پېښو ترسره کوونکي چې کله امنيتي ادارو ته وسپاري هغوی يې بېرته خوشې کېږي، حکومت اړ دی په امنيتي ادارو کې پراخه مثبت بدلونونه راولي او يوازې دا کار چې د امنيتي ادارو کسان له يو ځايه بل ځای ته تبديل کړي نه يوازې د جرمي پېښو کموالي کې رول نه لري بلکې هغو امنيتي کسانو ته چې د جرمي پېښو په ترسراوي کې لاس لري نور هم د دې جرئت ورکوي چې د جرمي پېښو لړۍ نورو ځايونو ته په آسانه توګه انتقال کړي.

له دې پرته د سزا په کوډ کې يو لړ ستونزې شته د بېلګې په توګه د څارنوالی او امنيتي ادارو لخوا د قانون په پلي کولو کې نه همغږي، په دې توګه کله چې پوليس تورن کس ونيسي، څارنوالی يې هسې خوشې کړي يا د کمې مودې بند په بدله کې بېرته خوشې کوي، چې دلته د قانون کمزورۍ په پايله کې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

جرمي پېښنو ترسره کوونکو ته د لا ډېرو جرمي پېښنو ترسره کولو جرئت ورکوي. د هغو پېښنو چې لا تر څارنوالی نه رسیږي خو لا بېل حساب دی.

که حکومت د روانو جرمي پېښنو کموالي په برخه کې اغېزمن ګامونه پورته نه کړي نو په حکومت د بې باورۍ په لړ کې ښايي لږ شمېر پانګونه پانګه وال چې لا په هېواد کې شتون لري هم خپلې پانګې له هېواد څخه بېرون، په ځانګړې توګه ګاونډي هېواد پاکستان ته په دې پار انتقال کړي چې هلته په دې وروستيو کې افغانانو ته د ځانګړې پانګونې اچونې په صورت کې د زياتې مودې ويزې او نورو امتيازاتو وړانديزونه په لاره اچول شوي چې دې کار سره د هېواد روان اقتصادي وضعيت نور هم خرابېدلی شي.

د دې لپاره چې حکومت د جرمي پېښنو کموالي په برخه کې لاسته راوړنې ولري، بايد د جرمي پېښنو ترسره کوونکو کليدي افراد په ګوته کړي او سخته سزا ورکړي، ترڅو د وېرې فضاء ختمه او کابل ښاريانو په ګډون د هېواد د نورو ولايتونو عام وګړي په ډاډه توګه خپل ژوند ته دوام ورکړي.

---

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز يو غير انتفاعي، غير حکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې تأسيس شوی دی. مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو ارزولو او د هغو د پراختيا لپاره فعاليت کوي. د مرکز يوه موخه دا هم ده چې د نويو څېړنو او پاليسيو تر مينځ داسې ارتباط قايم شي چې په پايله کې د هېواد په کچه ټولې پاليسۍ په مطالعې ولاړو اکاډيميکو اصولو برابرې شي.

www.csrskabul.com

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)